## د حزب التحریر پر خلاف د شرق الاوسط دروغجنې څرګندونې




الله لره د ستاینه وي، چې تل د حق او باطل ترمنځ شخړه ډاګیزه کوي. د شرق الاوسط ورځپاڼه څکه پره نه ده، چې د سعودي له څېړنیز او خپرندوی مرکز څخه خپرېږي. یاده ورځپاڼه د پوتین وحشي رژیم له دروغو ملاتړ کوي، چې ان له ستالیني رژیم څخه په جنایتونو کې مخکې ده.

یاده ورځپاڼه نه یوازې د روسیې د فدرالي امنیتي خدمتونو د ادارې (FSB) د اطلاعاتو دفتر لخوا په مسلمان میشت تاتاریستان کې د حزب التحریر د غړي د نیول کېدو خبر ورکوي، بلکې یادې ورځپاڼې د حزب پر وړاندې نور تورونه هم ولګول او له ځانه جوړ کړي دروغ یې خپاره کړل، چې «حزب په تروریستي کړنو سره خپلې موخې ترلاسه کوي». ( ګڼه: ۱۴۵۶۳، د ۱۴۴۰هـ.ق، د سفر ۲ مه د جمعې ورځ ـ د ۲۰۱۸م د اکتوبر ۱۲مه). ورځپاڼه زیاتوي: « حزب التحریر د خپلو هلو ځلو ترځنګ چې په روسیه کې ګڼ مسلمانان جذبوي او له ادارې جوړښت سره ورته سمې منظمې حلقې جوړوي، په منځنی ختیځ کې د ناقانونه سازمانونو او جنایتکاره ډلو ملاتړ کړی دی، د هغوی لپاره یې د رضا کارانو په جلب وجذب کې مرسته کړې او هغوی یې تروریستي کړنو ته هڅولي دي». موږ غوښتل چې پر همدې راپور باندې خپله تبصره ولیکو، خو یادې ورځپاڼې د همدې راپور پر وړاندې د تبصرې لیکلو مخه نیولې. هرې ویبپاڼې چې یاد راپور خپور کړی دی، موږ یې پر وړاندې خپله تبصره لیکلې، خو موږ و نه توانېدو چې د شرق الاوسط په ویبپاڼه کې خپله تبصره ولیکو څکه د تبصرې لیکولو ځای یې بند کړی دی!!

نو اوس موږ پوښتنه کوو، ایا موږ باید د پوتین د وحشي رژیم له جنایتکارو ساتونکو سره معامله وکړو، چې شپه او ورځ د الله سبحانه و تعالی د ربا په وژلو بوخت دی، په بې رحمانه ډول مسلمانان څکه ځپي او سختې سزاوې ورکوي، چې پر ځمکه د الله سبحانه و تعالی د قانون پلي کول غواړي. یا موږ باید د سعودي د هغه څېړنیز او خپرندوی بنسټ دروغ خلکو ته ثابت کړو، چې واکمنانو یې له دوو سپېڅلو مسجدونو(حرمینو شریفینو) سره خیانت کړی دی. دوی په ښکاره داسې شعار بدرګه کوي: «له الله پرته بل هیڅ بر حق معبود نه شته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی». دوی دغه شعار د خپل ښکاره خیانت د پټولو په موخه کاروي!

د حزب التحریر پر خلاف د دوی ناسم تورونه او څرګند دروغ چې ګواکې یاد حزب د تروریزم له لارې خپلې موخې ترلاسه کوي، هیڅ ځای نه نیسي. حزب له وېرې پرته د پوتین رژیم او په اسلامي هیوادونو کې د مستبدو رژیمو پر وړاندې په ډاګه حق وایي او حق ته دعوت کوي. حزب له پیل څخه د فکري او سیاسي مبارزې له لارې د خلافت د تاسیسېدو پر مټ د اسلامي ژوند بېرته را ګرځول غواړي. حزب له امت سره کار کوي، ترڅو د الله سبحانه و تعالی قانون پر ځمکه نافذ او پلی شي. دا نه نوې هڅه ده او نه هم د جنایتکارو رژیمونو پرله پسې ناکامۍ دي چې په دوامداره توګه یې د حزب د کارونو د مخنیوي هڅه کړې. د دوی هره هڅه څکه ناکامه شوې چې په حزب کې شته کسان پر الله سبحانه وتعالی او د هغه پر رسول صلی الله علیه وسلم کلکه عقیده لري او یاد درانه

پېټي ته يې اوږه ورکړې ده. الله سبحانه و تعالی دوی پر دې وياړلي دي چې نور خلک د هغه سبحانه وتعالی دين ته دعوت کړي، د هغه قانون پر ځمکه پلی کړي او دوی شاهدان واوسي پر هغو انسانانو باندې چې خلک اسلام ته رابولي، لکه څرنگه چې الله سبحانه وتعالی په خپل کتاب قران کريم کې فرمايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً﴾

[البقره: ۱۴۳]

*ژباړه: او همدارنگه موږ ستاسو منځنی امت غوره گرځولی، د دې لپاره چې تاسو پر خلکو باندې شاهِدان شئ او رسول پر تاسو باندې شاهد شي.*

لکه څرنگه چې مدعي اړ دی چې شواهد وړاندې کړي، موږ شرق الاوسط ننگوو چې د خپلې هغې دروغجنې ادعا لپاره ثبوت وړاندې کړي، چې گواکې حزب التحرير تروريستي کړنې سرته رسوي، که يې نه شي وړاندې کولی چې وړاندې کولی يې هم نه شي، بيا نو موږ پر مخلصو مومنانو بږغ کوو چې د ورځپاڼې هغه ليکوالان محاسبه کړي، چې د دعوت کوونکو پر وړاندې دروغ خپروي او د دين د دښمنانو دروغو ته نوره پراختيا هم ورکوي. ورځپاڼه مسلمان تاتاريستان د «روسانو» په څېر بولي! د هغه ځای ميشتو خلکو پر اسلام سترگې پټوي! د يادې سيمې خلک په خپله خوښه اسلام ته دننه شوي او په سر او مال له اسلام څخه دفاع کوي. موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو، چې د يادې ورځپاڼې او دې ته ورته ورځپاڼو له مسوولينو څخه زموږ غږ واخلي، چې د اسلام او مسلمانانو پر خلاف له ټولو شريرو عناصرو سره يې يوځای خوله خلاصه کړې ده. که څه هم کافران، منافقين او د امت دښمنان چې د امت بچيان هم ورسره دي، له اسلام څخه کرکه لري، خو موږ د الله سبحانه و تعالی پر بري بشپړه عقيده او باور لرو. ثنا او ستاينه د هغه الله لره وي چې د مومنانو لپاره يې بری ډاډمن کړی دی او موږ پر الله سبحانه و تعالی تکيه کوو. هغه سبحانه و تعالی تر ټولو غوره ملاتړی دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الأَشْهَادُ﴾

[غافر:۵۱]

ژباړه: *بېشکه موږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند او هغې ورځ کې مرسته کوو چې گواهان به ودرېږي.*

﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ * بِنَصْرِ اللَّهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ﴾

[الروم:۴-۵]

ژباړه: *او په دغې ورځ به مومنان د الله په نصرت خوشاله شي، هغه سبحانه وتعالی هر چاته چې وغواړي نصرت ورکوي.*

ډاکتر عثمان بخاش

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس

گڼه: ۱۴۴۰ AH/۰۰۴

۱۴۴۰ هـق، د سفرې ۵ مه

۲۰۱۸ م، د اکتوبر ۱۴ مه

ژباړن: عبدالله لطفي